AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور ۲۰۲۶/۱۰/۲۸

# خپلـو اوبـو مـهـارولـو تـه بـلا وهلي

## غزل

د سینـد تـر څنګ یي وچي وني او له تندې مري
هـغـه کـوهـي کي دي دوه بـنـي او لـه تندې مـري

هـغـه پيني لوخي بې اتـفـاقـه پر چـاودلـو لاسـو
شيندي پـر لار يـو بـل تـه غني او لـه تـنـدې مري

خپلـو اوبـو مـهـارولـو تـه بـلا وهلي
مينځي د بـل پـه اوبـو کوني او له تندې مري

د غـنـم وږي يـي پـټـيـو کـي دي جل وهـلي
دوئ پـر سـراب ښخـوي زني او لـه تـنـدې مـري

زاره د ځمکي يي د کـار پـه انـتـظـار و چـاوده
ددوئ کـيږدی دي پـکي پلـنـي او لـه تندې مري

خپـلـه روژه بـه پـه خُرمـا د ريګستان ماتـوم
زمـوږ خو خـاوري دي پمـني او لـه تـنـدې مـري

چي لـه زم زمـو نـه د سپين غره چيني کمي ګنی
د بـاور زړه کي وهي ستـنـي او لـه تـنـدې مـري


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ